**ليکونکی** : ډيويډ اکسی «David Axe»
**منبع اود خپريدو نيټه** :نيوز انفارميشن «14-05-2018
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل».

----------------------------------------------------

# مونږ دعراق اودافغانستان هريوه درس چی زده کړی هغه دياده باسو

# We’re Forgetting Every Lesson From Iraq and *Afghanistan*

**د يو پخواني جنګی خبر يا ل په توګه ما وليدل چي زمونږ جنګ د وام لري او زمونږ لګښت څومره دي ـ مګر اوس امريکا يا ن دايران سره دغه درسونه يا لوستی يوی غا ړی ته پريښی دي**



دسولی ورځ «متارکه» هغه مها ل پيل شو چي په يوه تيزرفتار موټرکی ځای پرځای شوی بمب ديو دولتی تعمير د کړکی څخه د با ندی وچول شو اوما له نژدی څخه وليدل چي ددی دولتی تعمير دټولو کړکيو هنداری مات اودړی وړی شو – دغه پيښه دجنوری دمياشتی په وروستيو کی دعراق په يعقوبه ښارکي چي دهغه هيواد په شما ل مرکزی

برخه کی پروت دي راپیښ شو . دجنوری د میا شتی وروستی ورځی وه چي زه هغه وخت یو(۲۷) کلن خبر یا ل اوم چی په یوه جنګی سیمه کی می د جنګ جګړی خبر جوړول.

په عراق کي دامریکی د متحده ایالاتو پوځي قومانداناان دیعقوبي دښار بغاوت کونکی اویا شورشیانو ته دمتارکی اود بخښنی پیام وړاندی کړی وه اوپه دغه وړاندی کړ شوی پیام کي له هغو څخه غوښتنه شوی وه چي دخپل توپکونو خوله بل خوا ته واړوی اوډزی دی نوربند کړي اوضرورهم نه دي چي په دی برخه کی پوښتنی وکړی چی ولی متارکه یا دسولی ورځ ؟ داځکه چی زمونږ پوځیان دغه ورځ ته دسولی دورځ نوم ورکړي دي اما په هرصورت شورشیانو خپل عمل تر سره کړ یعنی بمب وچول کوم چي په دی پیښه کی لږ ترلږه یو سړی خپل ژوند دلاسه ورکړ اودبمب چونکي شخص دغوښی ټوټی دهغه ساحي په هره څنده کی ترسترګو کیدل .



دغه د سولی ورځ ځما دپاره دلمړی زده کړی یوتاریخی ورځ وه یعنی چي د (9/11) دیرغل اود جګړی څخه وروسته دامریکی له خشونته ډک دوهمه بی مفهوم ، تش ، احمقا نه اوله کرکه څخه یوه ډکه او ناڅا په جنګ وه کوم چي زه تر اوسه پوری کولای شم چي په بشپړ بڼی سره هغه بوږنونکی او ټکان ورکونکې بمی چا ودنه کوم چي دعراق د یعقوبه په ښار کی دهغه دولتی تعمیر دکړکیو په مخ کی دباندی وچول شو په یاد راولم.

له ډاره هغه هری خواته تصا دفی ډ زی کوم چي دعرا ق پوځیا ن او پولیس ترسره کول اوهم په هغه موټرکي هغه چول شوی بمب یا دمنفجره موادوبد بوی اودبمب چونکې

یا ځا ن وژونکی وریته شوی اودهغی په وینو اوصفرا سره ککړ شوی هری خواته پرا ته تو ټی د غوښی تر اوسه پوری مي په ياد کی پا تي دي اوما لاتراوسه عراق نه دی هیرکړی اما دا امریکا یا ن دی چي په ظاهر کي عراق یی له یاده ایستلی اویا هیر کړی دي .

هغه څه چي دلته دهغه یادونه ضرور شمیرل کیږی ،هغه دادي چي مونږ په کا ل (2003) د خپلو متحد ينو خبرداری ته پام وانړول اودهغو ددغه خبرداری په مقابل کی مو بی اعتنا یی وکړاوهغه داچي باید مونږ دعراق درژیم ټول خواوی او اړین مطا لب په غور اودقت سره هراړخيزی برسی کړای وای نو مونږ د بشپړ بررسی اود ارزوني پرځای دغلطو اطلاعات په لرلو سره په جنګ پیل کړ-لکه هسی چي اوس **دونالد ترومپ** به له دی چي دعراق دجګړی څخه څه زده کړی وی غواړی د ایران دهسته ای موافقه کړ شوی تړون څخه ترشا شی اود (برجام) د تړون په ردولو سره بیا له سره هغه غمجنی اوناروا جګړه له سره داځلی دایران په مقا بل کی تکرارکړی چي ځما په ا ند دهغه پا یلی به ډ یر بوږنونکي وي د ستاسو په نظر همد اسی به نه وی ؟



دوه کا له وروسته زه په افغانستان کی په دنده وګمارل شم ، عراق په دلد لزار(باتلاق) کی غرق شوی وه اودامریکی د جمهور ریس **جورج دبلیو بوش** د قهر او د غضب کڅوړه لب ریز شوی وه او له عراق څخه دغچ اخیستو تنور یی ډ یر توده اوګرم شوی وه نودهمدی اصل په نظر کي نیولوسره ا فغا نستا ن د هغه په نظر نسبت عراق ته په دوهمه درجه لمړیتوب کی ځای لرل .هغه وخت په افغا نستا ن کی دامریکی اود(نا تو) دقوتونو ځواکمنی د سرتیرو دشمیر په ټیټوالی سره کمه وه نو هغوی یعنی امریکایان اود (ناتو) قوماندانان د خبل برتری په ښکاره کولو سره اوهغه هم په غیر تبعیضی بنبی سره بمبا ری ته مخه کړ اوتر هغه پوری چي وسه یی کیدل په دی هیواد کی هری خوا پر

خپل مخالفینو باندی بمونه وغورځول.

په دی وخت کی طا لبا ن د ترینکوټ په ښارګوټی کی چی د ا فغا نستا ن په سهیلی ولوید یځ برخه کی پروت دی ځای پرځای وه یعنی چي هلته ژوند کول نو دلته پر یو هالیندی پوځی کاروان باندی چي خپل قطارونه لیږدول یو انتحاری اویا ځان وژونکی یرغل ترسره شو چی دهغه یرغل په ترڅ کی یوسرتیری ووژل شو اوبیا دجګړی په نښتو اودوام سره چی هری خواته بمونه غورځیدل دهغه منطقی یو تولګی کوچنیان خپل ژوند دلاسه ورکړ ل اوپه هغه ساحه کی چی دغه کوچنیان خپل ژوند دلاسه ورکړی وه داسی ښکاریدل لکه چی قصابانو په یوه کشتا رګاه (مسلخ) کی سا رویی یا حیواتات حلال کړی وی .

دها لیندی پوځ پلی قواوی د خپل ځواکمن تو پخا نی او دډول ، ډول مدرن سلاحګا نو په لرلو سره کوم چي دهغوی قطارونه یا دهغوی نظامی کاروان دهلیکوپترونو پواسطه سره له پاسه نظا رت کیدل وتوانید ل چي پر یرغل کونکي طا لبا نو باندی ډ زی وکړی اوبیا په ځا نګړی بنی سره د هغه (۱۵۵) ملیمتری توپ چی ما د ارزګا ن دچوره په اولسوالی کی دهغوسره د اتوپ لید لی وه نودهغه توپ د ګذارونو ا ود ډزو پواسطه سره ډیر غیر نظا می خلک اوځنی طا لبا ن ووژل شول او ځنی نور سرتیری دخپلو ملګرو په ډزو کی خپل ژوند دلاسه ورکړل.

آ یا تاسی اوس فکر کولای شی ؟ اویا څه نظر لري چي آیا امریکا یا نو د طا لبا نو په وړاندي په ا فغا نستا ن کي دداعش په وړاندي په سوریه کی اودنړي په نورو برخو کي دالقاعدی دجنګیا لیو په مقا بل کي هم زمان دجنګ اودجګړی ددوام توان به ولري ؟ او برسیره پر هغه د**روسیی** سره په اروپا، **چین** سره داوقیانوس په لویدیځ او**دایران** سره دهسته ای پروګرام پرسر دناندارۍ اوداختلاف په لرلو سره بری به تر لاسه کړي ؟

شا ید چی امریکی دغه یاد شوی اختلافاتو ته دوام ورکړی ،اما آیا امریکا دغه څو اړخیزی د ښمنی ، اختلافات ، جنګ جګړی بی د سملا سی ځواک په نه لرلو اوهم بی له کوم قید اوشرط څخه دغه دروند پیټی به ترمزله پوری وبه رسوي . داسی ونګیری یا داسی فرض کړي چی شاید دامریکي پواسطه سره د جګړی په دوام اوپه نه ختمید و سره څو بی ګناه ملکی کسان خپل ژوند دلاسه ورکړي . له یاده مو باید ونه وځی چي زمونږ په جنګونو کي څو تنو غیرنظا میان به وژل شوی اوسی ؟

مغوچي مړ شوی دی له خپل خاطرو څخه یی هیر کړي ځکه چي هر څوک دوست او کورنی لری – زه څومیاشتی وروسته دسومالی په روحانی او متبرک پلازمینه او څو میا شتی پس دافغانستان دارزګا ن ولایت په ترینکوټ کی او دا مریکی ترحما یی لاندی ایتوپی اشغالګرانو ، دولتی سرتیرو د ملګرو ملتونو سوله سا تونکو، ملکی جګړه پا لو دالشباب جګړه مارو اودالقاعدی دترهګرو ترمینځ داختلافا تو اودد ښمنیو په موجود یت سره څلوراړخیزی جنګ جګړه ولید ل .

دبلې خوا څخه دامریکې دمتحده ایالاتو دبې پیلوتو الوتکو برغلونه اوهوایي حملې اود کوماندویانو عملیا تونه یواځې اویواځې د سردرګمۍ اود سرخوګۍ (Trauma) د پا ره زیا ته شو .

د یاد ونې وړ دی چې د (۲۰۰۱) اود (۲۰۱۶) کلونو په مینځ کې کم ترکمه دمتحده ایالاتو دهوایي قوتونو پواسطه سره پر سوما لی باندې (۴۱) هوایي برغل ترسره شوي چې دهغه په ترڅ کې (۴۱۸) تنه خپل ژوند دلاسه ورکړی چې ددې وژل شوی کسا نو له جملې څخه(۵۹) کسان یې بې ګناه نندارہ کونکو کسان وه . ما دسومالیا دموګادیشو په ښارکې دپوهنتون دیو پروفیسور سره ملاقات وکړ کوم چې هغه په ډیر ګونځه تندی سره ماته وویل چې تاسې امریکایان ددری نفرو دترلاسه کولو د پاره یو لوی ښار مو د مینځه ویوړل اود خا وری سره مو خا وری کړل .



دامریکې دمتحد ایالاتو جنګ په سوما لی کې مستقیم لاسته راوړنې درلود اوهغه داچې سومالی اصل امریکایي ځوانان کوم چې ډیری دهغو امریکې ته پناه راوړونکې دې یعنې چې هغوی د(۱۹۹۰) کال په لمړیو لسیزو کې په سومالی کې د داخلی وحشتنا ک جګړې له ډاره څخه تښتید لی اودلته امریکې ته پناه راوړی وه نود لته هغوی امریکایي شوی دی کوم چې دهغو له جملې څخه **ابوبکر** نومی ما ته وویل چې دغه هیواد (امریکا)

می ډیر خوښیږی خو مګر سوما لیا می له حده زیات ددی هیواد په پرتله خوښیږي .
یو شمیر امریکایی سوما لی اصل ځوانان چي په امریکا کی میشته شوی افراط ګرایی ته مخه کړی یااړول شوی دی کوم چی د تروریستی ګروپونو لکه القا عده ، الشبا ب او داعش سره یوځای شوی دي ، داکتوبرپه میا شت کا ل ( ۲۰۰۸ )،(۲۶) کلن **شریواحمد** (Shirwa Ahmad) نومی له **میناپولیس** (Minneapolis) څخه یو لاری (چکله موټر) چي دانفجاری له موادوڅخه ډک وه د سومالیا د **بوسا سو** (Bosaso) په سیمه کی دیو دولتی تعمیر څخه د با ندی وچول چي خپل ځان او څو نور نفر یی له مینځه ویوړل



له یا ده ونه با سي چي جنګ هره ورځ له ځان سره ترور راولی یعنی په جنګ کی بشری تلفا ت مینځ ته راځی .
«بارک اوباما» دامریکی دجنګونو دختمولودپاره ډیر پراخه تبلیغاتی پروګرام په لاره واچول اوددی له شرمه ډک کرغیړن او مفتضح جنګی ما شین دځرخ ددرولو یا دما تولو د پا ره په مبا رزه لاس پوری کړ. اما بیاهم هغه جنګونه کوم چي مو نږ د (۱۱/۹) له پیښی څخه وروسته پیل کړی وه لا تر اوسه مو هغه جنګونه نه دی درولي بلکه داجنګونه لا تراوسه دوام لری - د ښمنا ن غښتلی کیږي له پولو (سرحد) څخه اوړي ، هریو تروریست په شورشی سړی بد لیږی اوبی ګناه ملکی خلک وژني اودهری ورځی اویادهري تروریستی عمل څخه وروسته لا پسي افراطی کیږی –مونږ یو هیواد له مینځه

*وړو یا هغه هیوادویجاړوو اوبیا دهغه هیواد په شتمن خا وره کي د راتلونکی جنګونو د پیل د پاره د نفا ق ، بد بیني ، کرکه د هرج ومرج او د وینوتویولو تخم اودانی کړو.*

*ما څو کا له وروسته خپل ځان د ا فغا نستا ن له* ***ترینکوټ*** *ښار او له* ***موګا د یشو ښخه*** *د ا فغا نستا ن په مرکز کي وموند.داهغه وخت وه چي «اوباما» دخپل نفوذ دزیا توالی د پا ره په لس ګونوزرو اضافی نظا می قوتونه افغانستان ته ولیږل ترڅو که وکولای شی چی د جنګ څیره بد له کړی اویا له دی جګړی څخه د بشپړ بری لاره خپله کړي .*

*اما دا اهداف ترلاسه نشو ،داچي ولی بری مو ترلاسه نکړ ددی سوال ځواب دادی چي ممکن مونږ پخبله ونه غوښتل چی دا جنګ ختم شي یا مونږ ددی جنګ دختمولو د پا ره کومه پریکړی عمل تر سره نکړ.*



*ځما ډار (Terror) په سترتیا(boredom) اوسترتیا مي په هیجان(irritation) اویا تحریک باندی بد ل شو اوپس له هغه چي می پام ځا نته واړول ، ځما د دغه دری ګونی(ډار ، سترتیا ، هیجان) احسا سا تو څخه دتحریک احساس ډ یر اوچته او غا لب شوی وه او هغه داچي په یوه ځانګړی نقطه کی په واقعی بنی سره راته داسی هیله را پیداکیده چي بیا له سره پرخلکو یرغل وکړم داپه ریښتیا سره یوه جا لبه احساس وه او هغه داچي واقعاً ما ته دا اهمیت نه درلود چي ځما په یرغل سره به خلک ممکن مړ شي او داځکه چي زه یوامریکایی سرتیری یم – په هرصورت ځلورکا له مي جګړه له نژدی*

ځخه ولیډ ل یا داچي ځلور کا له زه د جګړی په مینځ کی اوم په جنګ کی د سولی اود آرامی په پړتله ډ یر آرام او د خوښی احسا س می کول- دوکاله وروسته په **لوګر** کي له سره تربمباران لاندی راغلم اوهغه داچي په دی وخت کی زه په هغه امریکایی موټرکی چي دهغه ترلاندی انفجاریه مواد ځای پرځای شوی وه سپورشم او بی خبر له دی چي دغه موټر دانفجاره موادو په چوولو سره والوتل ، څوک مړ نشو مګر یوائځی څونفر ټپیا ن شول . زه ډیر نیکمرغه اوم اوهغه داچي زه دهغه موټر په شا تنی او وروستی څوکي کی نا ست اوم اوله هغه ځایه څخه چي دغه منفجره مواد له ځانه سره تاو راتاو او ، ګګليچ شوی فلزات اود اوسپنی ټوټی هواته ګذارول زه دیو ننداره چي کس په صفت اوم چی هغه صحنه می مشاهده کول – دفزیکی له نظره زه خوږ اویا ستړی نه اوم اوما کولای شو چی خپل سترګی وتړم اودلوګر د هغه پیښی په اړه فکر وکړم اوهلته له یو سره ټول خلک ووژنم دا همغه هیجانی احساس دی چی لاتراوسه ځما به ذهن کی پا تی دی په جنګ جګړه کي کافي وخت مصرف کیږی اوتا سی هم کولای شی چي په دی مورد کی فکر وکړي ...

دافغانستان دلوګر دولایت دهغه ترسره شوی انفجار څخه دوکاله وروسته ما خپل ځان د **سوريي** په شما ل کی وموند اوهغه داچي د ترکی د سرحدی ساتونکو او دهغه هیواد دهلیکوپټر پواسطه سره د بیړلی بمونو له ګذار او تصا د ف څخه روغ رمټ لیری شم اوهم په ډیر دقت او احتیاط سره د( دداعش) دتالاشی له پوستو (checkpoints) څخه تیرشم ، (ISIS) یعنی هغه تروریستی افراطی ډ لی ټپلی په عراق کی وروسته له هغه چي امریکا پرهغه هیواد باندی یرغل او تجاوز وکړ دغه تروریستی ډلی رامینځته شو نو دغه تروریستی ډلی له سرحد څخه په اوړیدو ځان دجنګ دپاره سوریی ته را ورسول او مخکی له دی نه چي بیرته عراق ته ستون شی دلته په سوریه کي په کا ل (۲۰۱۴) کی د داخلی جنګ اور بل کړ اودهغه دپراخیدو دپاره چه یی څه په وسه کی وه دریغ ونکړل. اوددی داخلی جنګ اورته پکي ووهل .

بله مهم مطلب چی دهغه یادونه دلته لازم ګڼل کیږی هغه دادی چي **(بارک اوباما)** څو کاله دمخه له عراق حخه زیات امریکایی سرتیری را وویستل اما کله چي دداعش یا د(عراق اودسوریی ددولت افراطی اسلامګرایان) سر راپورته کړل او په حملو با ندی لاس پوری کړل نو **(بارک اوبا ما)** له سره امریکا یی سرتیری لمړی عراق او بیا سوریی ته واستول .

اوس کال (۲۰۱۸) دی اومونږ امریکایان دیوهیواد داتباعو په عنوان داسی نظر لرو اویا په دی هڅه اواند کی یو یا ډیر مشتاق یو چی یوه بله احمقانه جنګ د نورو جنګونو په اړخ کی پیل کړوکوم چي زمونږ دهیوادجنګ طلب ډلی ټپلی د(۱۵) کلونو په دوامداره جنګونو کی بری تر لاسه نکړل نوپه دغه نوی اواضافی جنګ کی بری بیاهم غیرممکن

دی یعنی هغسی جنګونه چی مونږ ته دزیان مننی جګړی ځخه پرته بل شی په ارمغان را نوړ – آیا مونږ په رېښتیا سره دا باورلرو چي دایران سره جګړه به دهر چا دپاره ښه وی یا دهرچا په ګټه وي ؟ ...... اوټول شیان به زمونږ دهیلو په سرته رسید و سره به ختم شی ؟.

دسوریي نه وروسته زه دجنګ دښه خبرو دښه لیکینی ځخه ډېره کوم اودا ځما ترټولو هغه سخت اوبی رحمه چلن دی کوم چي ځما په شخصیت کی وده کړي دي زه اوس لکه دخپل هیواد دجنګ طلبو کړیو اوحلقو په شان دجنګ سره معتاد شوی یم .

مهربانی وکړی اوزه له تاسو ځخه غواړم چی که تاسی لکه ماغوندی چی جګړه نشی هیرولی مګر بیاهم هڅه وکړی چی کم ترکمه هغه څه را یاد کړی چی له جګړی ځخه مو زده کړی دي لکه همغسی چي ډ یر مخکی مو د سولی تجربی را یا د ول .

---------------------------------- په سلامونو «2018-05-16)